PASHTO

Redd Barna

# د انټرنیټ قواعد

مخکې له دې چې شخصي عکسونه
اود خپل ځان او یا نورو په اړه
شخصي معلوماتو په خلاصو ویب
پاڼو کې شریکوی، یوځلی بنه فکر
وکړئ.

د انټرنیټ د کارولو په مهال یو
بل ته درناوی ولرئ. د انټرنیټ
له لارې ځوروني لکه د نورو
ځوروني په څیر جدي دي.

پام ولرئ چې درواغ ویل په
انټرنیټ کې اسانه دي، نو په هر
هغه څه چې نور یې لیکي، باور
مه کوئ.

داسې پټنوم یا رمز جوړ
کړئ چې اټکل یې ستونزمن
وي. ستاسو پټنوم یا
رمزشخصي دی.

که چیرې د چا سره د انټرنیټ
له لارې آشنا کیږې او غواړې
ورسره مخامخ ووینې ، نو باید د یو
اعتمادی شخص سره یو ځای کتنې
ته لاړ شې، کتنه باید په عامه ځای
کې ترسره شی .

که چیرې د کوم ناوړه چلند سره
مخامخ کیږې، نو یومشر کس
او یا هغه چا ته وواياست چې
وربانذی اعتماد لرئ . دا ستاسو
ګناه نه ده که چیرې بل څوک له
تاسو سره د انټرنیټ له لارې
یو څه ناوړه چلند کوي .

که چیرې و ویریږئ یا یو
څه ځان نارامه احساسوی،
نو اړیکه ختمه کړئ . هغه
شخص بلاک کړئ او هغو
کسانو ته راپور ورکړئ
چې د ویب پاڼې مسؤل دي.

reddbarna.no/skole

Oversatt av Nasjonalt senter for flerkultiurell opplæring. Grafisk desig. brodogtekst.no